چاچې کله اذان واوريد، او ويې وېيل: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ». «يعنې زه ګواهي ورکوم چې له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته او شريک نه لري. او پدې چې محمد - صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دى. پدې خوښ يم چې الله مې رب دى او پدې چې محمد صلى الله عليه وسلم مې رسول دى او پدې چې اسلام مې دين دى، نو ګناه به يې ورته وبښل شي

سعد بن أبى وقاص رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه فرمايلي دي: چاچې کله اذان واوريد، او ويې وېيل: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ». «يعنې زه ګواهي ورکوم چې له الله جل جلاله پرته په حقه بل معبود نشته او شريک نه لري. او پدې چې محمد - صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دى. پدې خوښ يم چې الله مې رب دى او پدې چې محمد صلى الله عليه وسلم مې رسول دى او پدې چې اسلام مې دين دى، نو ګناه به يې ورته وبښل شي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي، څوک چې له مؤذن څخه د اوربدو پر مهال ووايي: "أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له" يعنې، زه اقرار کوم او خبر ورکوم چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته، او له هغه پرته بل هر معبود باطل دى، "وأن محمدًا عبده ورسوله" او محمد د الله بنده او رسول دى يعنې محمد صلى الله عليه وسلم بنده دى؛ عبادت يې نه کيږي، او رسول دى دروغ نه وايى. "رضيت بالله ربًّا" زه په الله د څښتن په توګه راضي يم، يعنې د هغه په ربوبيت، الوهيت، نومونو او صفتونو. "وبمحمد رسولًا" او په محمد صلى الله عليه وسلم د رسول په توګه، يعنې، د هر هغه څه سره چې هغه رالېږل شوى او مور ته يې رارسولي دي. "وبالإسلام" او په اسلام، يعنې د اسلام له ټولو حکمونو او منهياتو سره، "دينًا" يعنې باور او پيروي په توګه، "نو هغه ته يې ګناهونه وبخښل شول،" يعنې: له ورو ګناهونو څخه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6272